# پاکستان او طالبان شخړه: په سيمه کې د ارتجاع او امپرياليزم نوې لوبه

ليک: زلمی پاسون

د پاکستان او افغان طالبانو تر منځ د ۴۸ ساعتونو لپاره يو موقتي اوربند شوی دی، چې دواړو لوريو يې رسمي تصديق کړی دی. په زړه پورې خبره دا ده چې که څه هم د پاکستان دولت ادعا کوي چې دا اوربند د طالبانو په غوښتنه ترسره شو، خو د طالبانو د وياند له مخې دا اقدام د اسلاماباد په غوښتنه شوی، کوم چې د دې شخړې اصلي توازن په ښکاره ډول رسوا کوي.

د ډيورنډ کرښې دواړو خواوو کې د پنځو ورځو لپاره د پاکستاني او افغاني امنيتي ځواکونو تر منځ پرلهپسې ډزې، شيلنګ او بمبارۍ روانې وې، چې دواړه خواوې يو پر بل د درنو تلفاتو دعوې کوي. يادونه بايد وشي چې د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په دوهمه اونۍ کې د پاکستان او افغانستان اړيکې يو ځل بيا د سخت تاوتريخوالي او متقابل تورونو ښکار شوې. د اکتوبر د نهمې او لسمې تر منځ شپه، د پاکستان له لوري د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو، په ځانګړي ډول په کابل، کنړ، ننګرهار، خوست او پکتيکا کې د هوايي بريدونو راپورونه ورکړل شول.

په کابل کې د اتمې ناحيې عبدالحق څلور لارې ته نږدې دوه چاودنې د خلکو پام ځان ته راواړاوه، چې ځايي عيني شاهدانو او نړيوالو خبري ادارو ‘‘AP’’ او ‘‘PressTV’’ دواړو دا بريدونه د پاکستاني ډرون يا جنګي الوتکو کار وبللو. په پاکستاني ټولنيزو رسنيو کې سمدستي دا ادعا خپره شوه چې بريد د ‘‘تحريک طالبان پاکستان’’ د مشر مفتی نور ولي محسود پر ضد و، او هغه ‘‘په کابل کې په يوه خوندي کور کې وژل شوی دی’’. خو څو ساعتونه وروسته نه يوازې د طالبانو حکومت دا ادعا رد کړه، بلکې پخپله نور ولي محسود په يو غږيز پيغام کې د خپل ژوند ثبوت ورکړ.

په دې ډول د پاکستان روايت، چې مخکې له دې د ‘‘ترهګرو پر ضد عملياتو’’ تر پردې لاندې پټ شوی و، خپله اعتبار له لاسه ورکړ. د طالبانو حکومت دا بريدونه د افغانستان پر خپلواکۍ نبغ په نبغه تېری وباله او سخت احتجاج يې وکړ.

دا هم بايد وويل شي چې دا پېښه لومړۍ نه ده. په تېرو څو مياشتو کې د پاکستان له لوري د افغان خاورې پر ضد څو ځله بريدونه ترسره شوي دي. د ۲۰۲۵ کال د اګست په مياشت کې په ننګرهار او خوست کې د پاکستاني هوايي بريدونو له امله لږ تر لږه درې ملکي وګړي وژل شوي او ګڼ نور ټپيان شول. له دې وړاندې، د ۲۰۲۴ کال په ډسمبر کې، د پکتيکا د برمل په سيمه کې د پاکستان هوايي ځواک د بمبارۍ له کبله ۴۶ تنه ووژل شول، چې زياتره ښځې او ماشومان وو. د دې بريدونو پېره د پاکستان دولت هېڅکله په رسمي ډول نه ده منلې، تل يې د ‘‘د سرحد له هغې خوا د ترهګرو پر پټنځايونو عمليات’’ يو مبهم دليل وړاندې کړی.

دا پېښې په داسې حال کې رامنځته کېږي چې د طالبانو د بهرنيو چارو وزير امير متقي په لومړي ځل د اوږده سفر لپاره هندوستان ته تللی، هلته يې سياسي، سوداګريز، ډيپلوماتيک او مذهبي ليدنې پلان شوې دي. بل لور ته د طالبانو حکومت وايي چې د پاکستان د بمبارۍ په ځواب کې د افغانستان امنيتي ځواکونو د ډيورنډ کرښې له هغې خوا په اوو بېلابېلو سيمو کې جوابي عمليات ترسره کړي دي. په دغو سيمو کې انګور اډه، باجوړ، کرم، دير، چترال او بارامچه شامل دي. د افغانستان د دفاع وزارت ادعا وکړه چې په دغو بريدونو کې ۵۸ پاکستاني سرتېري وژل شوي او ۲۵ پاکستاني پوستې يې نيولې دي. په مقابل کې، د پاکستان رسمي سرچينو وويل چې ۲۳ سرتېري وژل شوي، خو د ۱۹ افغان پوستو د نړولو او شاوخوا ۲۰۰ طالب جنګياليو د وژلو دعوه يې وکړه.

که دا شمېرې د هر لوري له خولې راځي، دواړه د دولتونو د پروپاګند ماشين د کار کولو طريقه څرګندوي. د دولتونو لپاره پروپاګند بېشکه يو حتمي وسيله ده؛ په جګړو يا کړکېچنو حالاتو کې حکومتونه د خپلو پوځي، سياسي او ډيپلوماتيکو ګامونو د توجيه لپاره د عامه ذهنونو د تر کنټرول لاندې راوستلو هڅه کوي. خو دا هېڅکله د دې مانا نه لري چې د همدې پروپاګند له لارې د خلکو سترګې پټې شي، د ‘‘ملي احساساتو’’ د پارولو لپاره دروغ او نفرت خپور شي، يا د سوشل مېډيا له لارې د بېادبۍ، کرکې او درواغو يو توپان جوړ شي. دا عمل ډېر د غندنې وړ دی.

د دواړو خواوو د پروپاګند دا مانا لري چې د خلکو اصلي ستونزې – فقر، ګرانی، بېروزګاري، د بنسټيزو خدماتو کمښت او دولتي ظلم – شاته پرېښودل کېږي. د ولس پام يا خو د ‘‘دښمن د تصوير’’ پر لور اړول کېږي، يا د سوشل مېډيا له لارې د کرکې او تعصب د خپرېدو په بڼه راڅرګندېږي. په انټرنېټ کې جوړېدونکي اوازې، جعلي انځورونه او دروغجنې ‘‘هلاکتخبرې’’ د عامو خلکو سياسي شعور ګډوډوي او د قومي، ژبني او مذهبي تعصباتو د پياوړتيا له لارې اوږدمهاله ټولنيز زخمونه پرېږدي.

په داسې وضعيت کې، کميونيستانو د پوره وضاحت سره د پاکستان له لوري د افغانستان پر ضد د هوايي بريدونو او نورو پوځي عملياتو سخته غندنه کړې ده. موږ باور لرو چې د دواړو هېوادونو تر منځ جګړه به يو ژور رجعتپال او تباهکوونکی کردار ولري، چې په دواړو غاړو به د خلکو دروند تاوان وي. دا شخړه د دواړو هېوادونو د محنتکش ولس جګړه نه ده، بلکې د حاکمو طبقو د بقا جګړه ده – هغه طبقات چې د امپرياليستي فشار، داخلي بحران او سياسي ضعف له منګولو د خلاصون لپاره د ‘‘ملي دښمنۍ’’ او ‘‘مذهبي جنون’’ لمبه بلوي. د دې وضعې د لا ښه درک لپاره اړينه ده چې د پاکستان، طالبانو او د ټولې سيمې حالت د نړيوال انقلابي چاپېريال له نظره وڅېړل شي.

## پاکستان او طالبان اړیکې: تاریخ، بګاړ او د دوه‌مخی پایله

د افغانستان پر ضد د پاکستان وروستی هوایي بمبارۍ هېڅ تصادفي یا ناڅاپي پېښه نه ده، بلکې دا د پاکستان او د طالبانو د حکومت ترمنځ د ورو ورو ژورېدونکو تضادونو عملي بڼه ده. په تېر څو کلونو کې دا تضادونه نه یوازې ډېر ژور شوي، بلکې اوس په ښکاره ټکر بدل شوي دي. کله چې په ۲۰۲۱ ز کال کې طالبانو د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته بیا د کابل واک په لاس کې واخیست، د پاکستان حاکم طبقې ته دا ګومان پیدا شو چې د هغوی له لسیزو راهیسې تکرارېدونکې "ستراتېژیکې ژوروالي" پالیسي بالاخره بریالۍ شوې، او اوس په افغانستان کې یوه "دوسته اداره" حاکمه ده. خو دا خوش‌باوري ډېر ژر له منځه ولاړه. د طالبانو حکومت د پاکستان غوښتنې، په ځانګړي ډول د "تحریک طالبان پاکستان" پر ضد د عملیاتو غوښتنه، پرله‌پسې له پامه وغورځوله. برعکس، TTPته په افغانستان کې د بیا منظمېدو او د پاکستان پر خاوره د بریدونو امکانات برابر پاتې شول. همدا بنسټیز تضاد و چې د اوسني کړکېچ ریښه جوړېږي.

موږ کمونیستانو تل دا روښانه کړې وه چې د طالبانو بېرته واک ته رسېدل نه د کوم "اسلامي انقلاب" پایله وه او نه د ولس د ملاتړ نتیجه، بلکې دا یوه بشپړه "امپریالېستي پروژه" وه. موږ دا هم ویلي و چې د طالبانو بېرته راتګ به د پاکستان او طالبانو زاړه اړیکې نه شي راژوندي کولای، ځکه دا ځل طالبانو ته واک هغه مات امپریالېستي بادار ورکړی و چې خپله د پاکستان دولت له لسیزو راهیسې د هغه په غېږ کې روزل شوی، یعنې امریکا. خو دا بېرته راتګ د کوم امپریالېستي ځواک د پیاوړتیا نښه نه وه، بلکې د "امریکایي امپریالېزم د زوال او د نړیوالې ولکې د کمزورۍ" څرګندونه وه. واشنګټن د خپلې رسوايي ډکې ماتې وروسته، د مستقیم اشغال پر ځای د داسې نیمه‌خودمختارو، ارتجاعي او د کنټرول وړ ډلو تکیه پیل کړه، چې د ده ګټې وساتي. د طالبانو واک هم د همدې "بې‌ثباته کنټرول" محصول و.

## د پاکستان دوه‌مخې پالیسي

د پاکستان دا دوه‌مخې تګلاره، چې له یوې خوا د امریکا امپریالېستي اړیکې ساتي او له بلې خوا طالبان روزي، بالاخره د همدې تضاد ښکار شوه. د امریکا دولت خپله د افغان جګړې په ناکامۍ کې د پاکستان دولت یو ستر مسئول وباله، چې له طالبانو سره یې پټ اړیکې درلودې او "دوه‌مخی لوبه" یې کوله. بل لور ته، د پاکستان پوځي او سیاسي اشرافیه له طالبانو سره داسې اړیکې وساتلې لکه د "سوداګریزې ودونو" په څېر، چې د وختي اړتیاوو تابع وې. نتیجه دا شوه چې دا "د ګټې نکاح" اوس خپل طبیعي انجام ته رسېدلی دی.

پاکستان هماغه دولت دی چې د ۱۹۸۰مو په لسیزه کې د امریکایي امپریالېزم په اشاره په افغانستان کې د مذهبي وسله‌والتیا بنسټ کېښود. د مدرسو، وسلو او مالي ملاتړ له لارې د "جهاد" فابریکې جوړې شوې، او د هماغو مجاهدینو نوې نسل، یعنې طالبان، په ۱۹۹۰مو کلونو کې روزل شول څو په کابل کې یو تابع حکومت جوړ کړي. خو د تاریخ دا ارتجاعي لوبه بالاخره د خپل خالق پر ضد وګرځېده.

اوس وضعه داسې ده چې د طالبانو حکومت نور د پاکستان د پراکسي په توګه چلند نه کوي، بلکې هڅه کوي ځان د یو خپلواک ځواک په توګه ومني. "د دوحې تړون" د همدې تضاد بنسټ و، چې طالبان یې د امریکا سره نېغ په نېغه خبرو ته کښېناستل او پاکستان یې تر شا پرېښود، چې د اسلام‌اباد لپاره یو سخت سیاسي ټکان و. له واک ته رسېدو وروسته د طالبانو د سیمې له بېلابېلو هېوادونو سره د اړیکو زیاتوالی او د نویو ډیپلوماتیکو فعالیتونو پیل، د همدې بدلون څرګندونه کوي. دا بهیر د اسلام‌اباد لپاره هېڅ منلو وړ نه دی.

## د طالبانو د "نسبتاً خپلواکې" پالیسۍ ماهیت

د طالبانو دا موسومه "نسبي خپلواکي" پخپله یو تضاد دی: له یوې خوا طالبان د مذهبي بنسټ‌پالنې او قبیلوي ملت‌پالنې په محدوده دایره کې بند دي، او له بلې خوا د نړیوالو امپریالېستي ځواکونو ترمنځ د خپل بقا لپاره سوداګرۍ ته اړ دي. د همدې تضاد تر ټولو ستر قرباني د افغانستان مزدور ولس دی، چې نه ورته رښتینې خپلواکي شته او نه طبقاتي نجات.

د طالبانو دا موسومه "خپلواکه" تګلاره په حقیقت کې د هغو تضادونو څرګندونه کوي چې د دوی د امپریالېزم ضد شعارونو او د امپریالېستي او سیمه‌ییزو قدرتونو سره د اړیکو ترمنځ موجود دي. هغوی د "آزادې بهرنۍ پالیسۍ" خبرې کوي، خو د دوی اقتصاد، ډیپلوماتیک حیثیت او د واک دوام د هماغو نړیوالو توازنونو پورې تړلی دی چې ظاهراً یې ردوي.

د طالبانو او هند نوې اړیکې

په افغانستان کې د طالبانو د حکومت د بهرنی تګلارې یو مهم اړخ د هند سره د اړیکو بیا رغول دي. په تېر وخت کې هند د طالبانو راتوکېدل نه یوازې د خپل "سکولر، جمهوري" دولت لپاره خطر باله، بلکې د طالبانو د دښمنانو ښکاره ملاتړ یې کاوه. د مودي د واکمنۍ پر مهال د هندوتوا هندوي بنسټپالنې پالیسي له امله هم طالبان دښمن ګڼل کېدل. خو اوس نوې ډیلي هڅه کوي له دوی سره اړیکې جوړې کړي. د دې بدلون اصلي لامل د سیمې د توازن ساتل دي، چې د امریکایي امپریالېزم تر نفوذ لاندې دی.

هند ښه پوهېږي چې د افغانستان څخه د امریکا د وتلو باوجود د واشنګټن غیرمستقیم نفوذ ختم شوی نه دی، حال دا چې چین، روس او ایران هلته خپل نفوذ زیاتوي. له همدې امله د هند د امپریالېستي عزائمو لپاره هم دا اړینه ده چې په افغانستان کې خپل حضور وساتي. دا اړیکې ظاهراً د هند خپله پالیسي ده، خو په حقیقت کې د نورو امپریالېستي ځواکونو سره ټکر نه لري. البته د پاکستان لپاره دا یوه مرګوني ضربه ده، چې افغانستان ته د "پنځم ایالت" یا د "دوست حکومت" د پروژې په نوم ګوري.

د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي وروستی د هند سفر د همدې پالیسي عملي بڼه وه. په ډیلي کې د طالبانو پلاوي له هندي چارواکو سره د اقتصادي اړیکو، د سیمې د ثبات او د ترهګرۍ ضد مبارزې په اړه خبرې وکړې. د پام وړ دا ده چې د همدې ورځو په ترڅ کې پاکستان د کابل پر ښار هوایي بمبارې وکړه، چې دا د خپل نوعیت لومړی مستقیمه حمله وه. پخوا د پاکستان پوځي عملیات یوازې تر سرحدي سیمو محدود وو. پر کابل برید دا څرګنده کړه چې اسلام‌اباد به د طالبانو ډیپلوماتیکه خپلواکي ونه زغمي. د طالبانو سخت غبرګون بیا د سیمې د توازن بدلون څرګندوي.

د امریکا، هند او پاکستان تضادونه

که څه هم د هند او طالبانو اړیکې تر اوسه محدودې دي، خو د دوی هدف دا دی چې په افغانستان کې د پاکستان نفوذ کم او په منځنۍ آسیا کې ډیپلوماتیک حضور وساتي. دا اړیکې د امریکایي ګټو پر ضد نه دي، بلکې ورسره همغږې دي. واشنګټن په غیررسمي ډول دا بهیر ملاتړ کوي، ځکه د هند حضور په افغان خاوره کې د چین او پاکستان جیوپولیټیکي توازن ته زیان رسوي. نو دا ټول پرمختګ د امریکایي امپریالېزم د غیرمستقیم نفوذ ستراتیژۍ یوه برخه ده، چې یوه ځواک په متضادو قوتونو خپل عمومي نفوذ ساتي.

که څه هم د امریکا او هند ترمنځ ظاهري سړه فضا موجوده ده، دا تضاد لنډمهاله دی. په جنوبي آسیا کې د امریکا یوازینی ستراتېژیک ملګری هند دی. د ولسمشر ټرمپ له خوا له پاکستان سره لنډمهاله تودې اړیکې د ډېرو تبصره‌کوونکو لەخوا د پالیسي بدلون وګڼل شوې، خو په حقیقت کې دا د ټرمپ شخصي تګلاره وه، نه د واشنګټن د امپریالېستي بنسټونو رسمي پالیسي. د امریکایي پوځ، بهرنیو چارو وزارت او کانګرس لپاره دا څرګنده ده چې د پاکستان دولت خپله پخوانۍ ستراتېژیکه ارزښت له لاسه ورکړی، حال دا چې هند د هغوی لپاره یو دوامدار او د باور وړ ملګری دی.

د پاکستان دوه‌مخی معیار او د "تابع خودمختاري" حقیقت

ټرمپ که څه هم پر هند تجارتي تعرفې ولګولې او له پاکستان سره یې ظاهري نرمه رویه خپله کړه، خو دا یوازې یو موقتي تاکتیک و، څو هند د بشپړې خپلواکې بهرنۍ پالیسۍ له اختیار څخه راوساتي. له همدې کبله په واشنګټن کې د پالیسي جوړونکو ترمنځ یوه عمومي اجماع دا ده چې نه باید هند د چین او روس لور ته ورنږدې شي، او نه باید له امریکا څخه بشپړه بې‌نیازه شي. په اوږدمهاله توګه، د امریکا او هند اتحاد به پر ځای پاتې شي، ځکه د چین پر ضد د امریکایي امپریالېزم نړیوالې ګټې هند تمثیلوي.

دا ټول سیمه‌ییز تحرکات د پاکستان لپاره د سختې اندېښنې وړ دي. اسلام‌اباد د طالبانو له هند سره د نږدې کېدو هڅې د خپلې تاریخي "ستراتېژیکې ژوروالي" پالیسۍ لپاره خطر ګڼي. د طالبانو دا میل د کابل په صحنه کې د پاکستان د نفوذ د زوال نښه ده. له همدې کبله د پاکستان دولت دا بهیر د "غدارۍ" یا "هند نوازۍ" په نوم بدناموي، څو خپلې امپریالېستي ناکامۍ پټې کړي.

د طالبانو لپاره له هند سره اړیکې جوړول د دوی د ډیپلوماتیکې انزوا او اقتصادي بحران د حل اړتیا ده. د یو نه‌منل شوي حکومت په توګه دوی ته د تنفس فضا پکار ده، او له هند سره اړیکې د "پاکستاني پراکسي" د تصور نه خلاصوي. د دهلي سره اقتصادي همکاري

هم د طالبانو کمزوري ده او هم تاکتيکي وسيله. د اميرخان متقي دا څرګندونه چې "له نورو ګاونډيو هېوادونو سره موږ ته د ترهګرۍ کومه شکايت نه شته، يوازې پاکستان شکايت کوي" د همدې تصوير جوړونې څرګندونه وه.

د مارکسي نظر له مخې

اسلاماباد ته د طالبانو دا ميل تر ټولو د انديښنې وړ دی. عجيب دا چې چين او روس دواړه له طالبانو سره سياسي او اقتصادي اړيکې لري، خو پاکستان پرې چوپ دی. د چين پانګونه او د روس د انرژۍ مرسته "بېخطره" ګڼل کېږي، خو له هند سره د طالبانو اړيکې د پاکستان د ستراتېژيکي کمزورۍ نښه بولي. دا دوه‌مخی معيار د پاکستان د امپرياليستي تابعيت ننګوي، چېرې چې بهرنۍ پاليسي د اصولو پر ځای د پوځي ګټو او موقتي توازن پر بنسټ ولاړه ده.

د مارکسي نظر له مخې د طالبانو دا نسبي خپلواکي په حقيقت کې د سرمايه‌دار امپرياليستي نظام دننه يو ډول "تابع خودمختاري" ده. ظاهراً دوی ځانونه آزاد ښيي، خو په واقعيت کې د نړيوالو ځواکونو د تضادونو په منځ کې د خپل بقا لاره لټوي. دا د هغه نيم‌استعماري ټولنې تراژيدي ده چې يو وخت د امپرياليزم پر ضد شعارونه ورکوي، خو خپله واکمني د هماغه امپرياليستي توازن پر مټ ساتي.

دواړه دولتونه، پروپاګنډه او د خلکو تېرايستل

په پاکستان او افغانستان دواړو کې د دولت پروپاګنډه په پوره شدت فعاله ده. هر دولت خپل دريځ د "ملي ګټو" او "خپلواکۍ" تر شعار لاندې خلکو ته وړاندې کوي، خو د دې تر شا په حقيقت کې د حاکم طبقو خپل ذاتي ګټې، د اقتدار بقا، او د طبقاتي استحصال دوام پروت دی.

په افغانستان کې د دې پروپاګنډې اصلي محور د پاکستان ضد بيان دی. د افغان ولس په زړونو کې د پاکستان پر وړاندې کرکه له طالبانو سره يو ځای وده کړې ده — هغه کرکه چې د اسلاماباد اوږدمهاله مداخلې، استخباراتي نفوذ، او پوځي ملاتړ د تجربې له لارې زېږېدلې ده. د طالبانو امارت اوس په شعوري ډول هڅه کوي چې له دې "پاکستاني پراکسي" د نوم څخه ځان خلاص کړي. دوی غواړي ځان د "اصلو افغانانو" او "خپلواک اسلامي امارت" په توګه معرفي کړي، خو په مصنوعي ډول د خلکو ملاتړ زيات کړي. همدا وجه ده چې د کابل مشرتابه د سرحدي نښتو، تندو ويناوو، او د پاکستان ضد رسنيزو کمپاينونو له لارې د "ملي غيرت" احساس ته وده ورکوي.

په افغانستان کې د فقر، لوږې، بې‌کارۍ، پر ښځو او مظلومو قومونو د ظلم، او سياسي جمود اوږده تاريخي بحران د طالبانو د واکمنۍ ټولنيزې بنسټونه کمزوري کړي دي. د دې کمزورۍ د پټولو لپاره هغوی يو بهرنی دښمن جوړوي، څو د خلکو پام له داخلي بربادۍ واوړي. له همدې امله، "د پاکستان دښمني" د طالبانو لپاره يوازې يو نظري شعار نه دی، بلکې د سياسي بقا وسيله ګرځېدلې ده. بيا هم د طالبانو په منځ کې بشپړ اتفاق نشته؛ ځينې مشران، په تېره يو ځانګړی ډله، لا هم له پاکستاني استخباراتو سره تماسونه لري، خو د ولسي فشار له امله چوپ پاتې دي. د دوی حالت متضاد دی: له يوې خوا پر پاکستان نسبي تکيه، او له بلې خوا د ولسي تصوير د ساتنې لپاره له هغه نه ظاهري واټن.

په پاکستان کې هم دا منطق بل ډول څرګند دی. د دولت دننه بشپړه يووالي نشته. د اسټېبلېشمنټ بېلابېلې ډلې د پاليسۍ پر مسئله وېشلې دي. دا وېش نه د نظري اصولو پر بنسټ دی، بلکې د قدرت، وسيلو، او عايداتو پر وېش ولاړ دی. د پوځ، استخباراتو، او ملکي بيروکراسۍ بېلابېلې حلقې د خپلو مالي ګټو او د نفوذ د دايرې د ساتنې لپاره يو د بل پر ضد ولاړې دي. دا متقابل کشمکش د دولت پاليسي غيرثابته، موقع‌پرسته او دوه‌مخې کړې ده — کله پخلاينه، کله جګړه، کله د سولې خبرې، او کله بمبارۍ.

د تحريکِ طالبان پاکستان (TTP) په مسئله کې د پاکستاني دولت تضاد تر ټولو څرګند دی. په بېلابېلو پړاوونو کې د TTP د ډلو او د دولت د ځانګړو عناصرو تر منځ پټې رابطې، جوړجاړي، او معاملې څرګندې شوې دي. دا اړيکې تصادفي نه وې، بلکې د سياسي فشار، داخلي توازن، او لنډمهاله پوځي ګټې لپاره کارول شوې. همدې دوه‌مخۍ د "د ترهګرۍ پر ضد جګړې" شعار بې‌معنا کړی دی؛ يو خوا د شدت‌پسندۍ پر ضد د جګړې دعوه، او بل خوا له هماغه ډلو سره اړيکې.

د دې تضاد يو بل اړخ دا دی چې کله TTP يا بلوڅ جنګيالي پر امنيتي ځواکونو بريدونه کوي، نو د پوځ غوسه د افغانستان پر لور اړول کېږي. د پاکستان اسټېبلېشمنټ په داسې شېبو کې د سرحد هاخوا بمبارۍ او ډرون حملې کوي، څو دا انځور ورکړي چې "موږ د

ترهګرو خالي له منځه يوړي"، حال دا چې د دې حملو اصلي قربانيان د ډيورنډ کرښې هاخوا عادي مزدور خلک وي، نه د TTP پټې اډې.

دا بريدونه يوازې پوځي تاکتيک نه دي، بلکې د داخلي فشار د تخفيف سياسي وسيله ده. کله چې پوځي تلفات زياتيږي او په پوځ کې بې‌باوري خپريږي، نو مشرتابه هڅه کوي دا فشار د بهرنيو "برياوو" له مصنوعي تبليغ سره کم کړي. په رسنيو کې د "ترهګرۍ له منځه وړلو" دعوې او د "عزمِ نو" شعارونه همدا د داخلي بحران د پټولو حربې دي.

په حقيقت کې، د ترهګرۍ پر ضد د پاکستان ټولې پاليسۍ په عملي توګه ناکامې شوې دي. د شلو کلونو جګړه، ميلياردونه ډالره لګښتونه، او زرګونه قربانۍ، خو دولت دا بحران نه دی ختم کړی بلکې لا پراخ شوی دی. تر هغو چې د عسکريت د ټولنيزو او اقتصادي عواملو، طبقاتي استحصال، ملي جبر، او امپرياليستي انحصار ريښې له منځه يوړل نه شي، "د ترهګرۍ ضد جګړه" به يو نه ختميدونکی پوځي دايره پاتې وي.

د اسټيبلېشمنټ دا موقتي "ايډوېنچر پاليسي" نه يوازې انساني فاجعې زېږوي، بلکې داخلي تضادونه هم ژوروي. د TTP او بلوڅ مقاومت پر ضد دا بې‌سمتي د دې څرګند ثبوت دی چې د پاکستاني دولت نه کوم نظري بنسټ پاتې دی، نه دوامداره ستراتيژي، يوازې موقتي غبرګونونه، سرحد پار بمبارۍ، او د داخلي بحران نه د توجه اړولو بې‌نتيجې هڅې.

د جدلياتي منطق له مخې، سياسي او پوځي اړيکې تل بدلېږي او بالاخره په خپل مخالف بدل کېږي. هغه طالبان چې کله پاکستان د يوې پراکسي په توګه جوړ کړي وو، هماغه اوس د اسلام‌اباد پر ضد صف‌کشي کړې ده. خو د همدې منطق له مخې، په راتلونکي کې د نوو مصلحتونو او ګټو تړونونه هم ممکن دي، ځکه دا اړيکې نظري نه، بلکې مالي او موقتي بنسټ لري. د اوسني شخړې که څه هم ژور علتونه شته، خو په حقيقت کې د دواړو دولتونو پروپاګنډه يوازې د خلکو د تېرايستلو وسيله ده. طالبان د "پاکستان دښمنۍ" تر شعار لاندې خپل داخلي زوال پټوي، او د پاکستان حاکمه طبقه د "د ترهګرۍ پر ضد جګړې" تر شعار لاندې خپلې اقتصادي او سياسي ناکامۍ. په حقيقت کې، د دواړو موخه يوه ده، ولس له طبقاتي استحصال، فساد، او د اشرافي حاکميت له تسلطه بې‌خبر ساتل.

د قومپرستۍ زوال: د حاکم طبقې خوږ زهر

قومپرستي، چې په ظاهره د آزادۍ، خپلواکۍ او پېژند هڅ شعار پورته کوي، په حقيقت کې د سرمايه‌دارۍ تر ټولو اغېزمن نظري وسيله ده. حاکمه طبقه دا د دې لپاره کاروي چې ولس له طبقاتي مبارزې واړوي. هر کله چې مزدور طبقې د خپلو ګډو ګټو پر بنسټ د يووالي لور ته ځي، قومپرستي يو ځل بيا په نوې څېره را څرګندېږي کله د "ملي حقونو" په نوم، کله د "بهرني دښمن" پر ضد د ملي غيرت د پلمې لاندې، کله د "صوبايي خودمختارۍ" په عنوان، کله د ارتجاعي ځواک د "قومي تړاو" د دعوې په بڼه، او کله د يوې خيالي "سرحدي غيرت" تر پردې لاندې.

په ځانګړي توګه د افغانستان په سياق کې، دا قومپرستي ډېر ځله د طالبانو ارتجاعي ماهيت او د هغوی امپرياليستي دلالي يا خو له ياده باسي، يا پرې شعوري ډول پرده غوړوي، څو د ولس پام يوازې پر احساساتي ملي شعارونو او خيالي وېشونو ورټول پاتې شي. دا نظريه د طبقاتي استحصال د پټولو وسيله ګرځي او ولس د مصنوعي قومي وېشونو په دام کې اچوي. دا البته دا نه معنا چې ملي جبر نشته برعکس، ملي جبر ورځ تر بلې زياتيږي، خو له هغه څخه ريښتينی نجات يوازې د سرمايه‌دار نظام په نسکورولو پورې تړلی دی. خو قومپرستي، د همدې نظام د بقا د تضمين وسيله ده يو زهر چې د ولس د وينې په بيه د حاکم طبقې ژوند تضمينوي.

په افغانستان او پاکستان کې د پښتون قومپرستۍ اوسنۍ بڼه د همدې تضاد روښانه مثال دی. د طالبانو ملاتړ، يوازې د پښتونوالي پر بنسټ، د قومپرستۍ د نظري زوال او سياسي ورشکستګۍ وروستۍ بڼه ده. د طالبانو ماډل که څه هم د پښتونپالنې په خول پوښل شوی، خو د خپلو اقتصادي او سياسي بنسټونو له مخې دا هماغه "طبقاتي جبر" دی چې د پښتنو ولسونه يې د لسيزو راهيسې د جګړې، کډوالۍ او فقر کندو ته ټېل وهي. طالبان د کوم قوم د نجات نښه نه دي، بلکې د امپرياليستي او سرمايه‌دارانه تړلو تسلسل يوه بله بڼه ده.

په افغانستان کې يو نوی تضاد هم راڅرګند شوی، چيرې چې د ښاري منځنۍ طبقې ځينې محدودې برخې د طالبانو له خوا د پاکستان پر ضد د ښتو په مبينه "برياوو" خوشحالي کوي. خو دا خوشحالي د طالبانو ملاتړ نه دی، بلکې د پاکستان د دولتي نقشې او تاريخي مداخلاتو پر ضد د ژور ولسي کرکې څرګندونه ده. دا کرکه ريښتيا ده، خو د هغې څرګندونه د يوې ارتجاعي قوې په حق کې کېږي، هغه قوې چې پخپله د ولسي آزادۍ دښمنه ده. نو دا خوشحالي په حقيقت کې "له ماتم هم بدتره" ده، ځکه طالبان نه د کومې ملي خپلواکۍ

نښه ده او نه د آزادۍ، بلکې د امپریالیستي ځواکونو د اشاره پر بنسټ څلور کروړه افغان مزدور ولس د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې غلامۍ په زنځیر تړلي ساتي. د طالبانو هره "بریا" د همدې غلامۍ د دوام بل نوم دی.

د پښتون قومپرستونو دا تضاد نوی نه دی. په تېر وخت کې دوی د "وار آن ټیرر" پر مهال د طالبانو مخالفت کاوه، خو د امریکایي امپریالیزم د ګوډاګیو جنګسالارانو او د "ډیموکراسۍ" تر شعار لاندې د سرمایه‌دار سیاست ملاتړ یې کاوه؛ او نن بیا د طالبانو په حق کې خبرې کوي. د دوی هر دریځ د حاکم طبقې د کومې نه کومې ډلې له ګټو سره تړلی و — کله له امپریالیزم سره، کله له مذهبي ارتجاع سره. د دوی د شعارونو پایله همېشه د مزدور ولس وینه وه.

له بلې خوا، د پاکستان شاونسټ طبقه د همدې تضاد بل مخ دی. دوی طالبان "غداران" او "ترهګر" بولي، خو همدغه قوتونه پخپله همدا دولت روزلي دي. د پاکستان د دولت ټول بیان د دروغو، فریب او وېرې پر بنسټ ولاړ دی، چې موخه یې د مزدور ولس وېش او د "پوځي او ملکي اشرافیت" لوټمار ته ساتنه ورکول دي. دا هماغه قومپرستانه شاونسټ بیان دی چې په سیمه کې د وینې بهېدنه تلپاتې کوي.

په دې توګه، د طالبانو ملاتړي قومپرستان، د ښاري منځنۍ طبقې محدود ارتجاعي عناصر، او د دولت شاونسټ په ظاهره مخالف، خو "له طبقاتي پلوه د یو ارتجاعي سکې درې مخونه" دي. یو د مذهب تر نامه ولس دوکه کوي، بل د قوم، او درېیم د دولتي وطن‌پالنې تر شعار. د دوی ګډ هدف د امپریالیستي او سرمایه‌دارانه نظام ساتنه ده، او د دوی سیاست د مزدور ولس له استحصال تغذیه کوي.

د قومپرستۍ هره بڼه، که پښتون وي، تاجک، هزاره، ازبک که پنجابي د مزدور ولس لپاره یو زهرجن فریب دی. د دې علاج یوازې "طبقاتي شعور او انقلابي یووالی" دی، چیرې چې پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، مزدور، دهقان، ښځې او ځوانان د خپلو ګډو طبقاتي ګټو پر بنسټ یو موټی شي. همدا یووالی د مذهبي ارتجاع، قومي تنګ‌نظري او امپریالیستي جبر پر ضد یو رښتینی انقلابي لار ده.

جګړه او مزدور ولس

لینن ویلي وو چې ‘‘جګړې وېرونکې وي، خو له دې هم زیات وېرونکې هغه وخت وي کله چې ګټه ورې وي.’’ همدا جمله د پاکستان او طالبانو د احتمالي ټکر ټول ماهیت بربنډوي. د جګړې تر نامه لاندې چې څه وړاندې کېږي، نه مذهبي تقدس لري او نه هم ملي وقار، بلکې دا یوازې د حاکم طبقو د مالي، سیاسي او امپریالیستي ګټو تسلسل دی. د پانګوال نظام تر سیورې لاندې جګړه تل د استحصال بله بڼه ګرځي، چې پکې وژل کېدونکي ولس وي، خو ګټه اخیستونکي جنرالان، پانګوال او د هغوی امپریالیستي سرپرستان وي.

که د پاکستان او طالبانو تر منځ رښتینې جګړه پیل شي، نو ټوله بیه به یې مزدور ولس پرې کوي، نه هغه واکمن چې دا اور بلوي. د دواړو غاړو بزګران، مزدوران، بېوزلې ښځې او ماشومان به یې اصلي قربانیان وي. افغانستان له وړاندې د اقتصادي تباهۍ، لوږې او بېروزګارۍ ښکار دی، او پاکستان کې هم ګراني، فساد او بېروزګاري ولس ژوندی ښخ کړی دی. دا ډول جګړه به پر دغو زخمونو مالګه واچوي.

د ډیورنډ دواړو غاړو ولس د جګړې نه کرکه او د سولې غوښتنه د همدې تاریخي تجربې پایله ده. افغان ولس د لسیزو امپریالیستي جګړې، د طالبانو ظلم او اقتصادي قحط زغملی دی؛ او د پاکستان مزدور ولس، په ځانګړي ډول هغه پښتني سیمې چې د ډیورنډ کرښې ته نږدې دي، د ‘‘ترهګرۍ ضد جګړې’’ تر نامه لاندې خپل کورونه ویجاړ شوي لیدلي دي. دا ټولې تجربې ولس ته دا شعور ورکړی چې جګړه د حاکم طبقو لوبه ده، پکې عام انسان یوازې د شطرنج مهرې دي.

په دې کې شک نشته چې ‘‘د افغانستان د میلیونونو مزدورو خلکو په زړونو کې د طالبانو لپاره نه کومه خواخوږي شته او نه ملاتړ’’. خو د امپریالیستي لوبو، بهرنیو لاسوهنو او پرله‌پسې کورنیو جګړو نه ستړي شوي خلک د ‘‘سولې’’ د یوې دروغجنې هیلې تر سیوري لاندې د طالبانو ظلم موقتي زغمي. د دوی چوپتیا رضا نه، بلکې د ستړیا، بېوسۍ او محرومۍ څرګندونه ده — د یو داسې ملت ګډه ستړیا چې نیمه پېړۍ د امپریالیزم د تجربوي لابراتوار په توګه کارول شوی. خو دا ګډه چوپتیا د یو طوفان د راځېدو نښه ده.

د همدې امپریالیستي لوبې پر ضد په ۲۰۱۸ کال کې یوه زبردسته ولسي خوځښت راپورته شو، ''پښتون تحفظ موومېنټ ''(PTM) چې د دې امپریالیستي پروژو، پوځي عملیاتو، جبري تښتونو او د ترهګرۍ سیاست پر ضد یې غږ پورته کړ. دا خوځښت د ولس د هغه سیاسي کرکې څرګندونه وه چې د لسیزو دولتي او مذهبي ظلم پر ضد راټولېدلي وه. خو کله چې په ۲۰۲۱ کال کې طالبان بیا واک ته ورسېدل، نو په افغانستان کې د وېرې او بېباورۍ نوې فضا رامنځته شوه. د دې تسلسل په ترڅ کې په پاکستان کې ''اولسي پاسون'' (عوامي بیداري) په نوم احتجاجي لړۍ راپورته شوه، چې طالبانو ته د ملاتړ تر شا ولاړې ترهګرۍ او دولتي جبر دواړو ته یې غږ پورته کړ. دا احتجاجونه دا څرګندوي چې د ډیورنډ دواړو غاړو ولس، که افغان وي او که د پاکستان پښتون مزدور، اوس د جګړې، جبر او مذهبي ارتجاع له ګډو تجربو نه ستړی شوی او د سولې، کار او ټولنیز انصاف پر بنسټ د یو بدیل لټون کوي.

د همدې حاکمانه منطق له مخې اوس د طالبانو او پاکستان د خرابو اړیکو ټوله پېره پر افغان کډوالو اچول کېږي، هماغه کډوال چې زیاتره د مزدور طبقې برخه ده او کلونهکلونه یې په پاکستان کې د ودانیو، مزدورۍ او نورو کارونو له لارې ژوند تېر کړی. د پاکستان دولت خپل ټول ناکام سیاستونه پر دغو بېوسه خلکو تپلي دي. د میلیونونو افغان کډوالو جبري شړل د دولتي انتقام او طبقاتي ظلم څرګند مثال دی. پکې ښځې، ماشومان، مزدوران او زړې کسان شامل دي، چې نه یې د عدالت ساتنه شوې او نه یې د انسانیت درناوی. دا جبري اخراج د امپریالیستي تګلارو او دولتي ناکامیو ملامت د کمزوریو پر اوږو اچوي.

د دې ټولو تجربو پایله دا پوښتنه راپورته کوي: ایا کوم عادي پنجابي، پښتون، بلوڅ یا سندهي مزدور کله د افغانستان د خپل مزدور ورور پر ضد جګړه کړې؟ هېڅکله نه. دا جګړې تل د حاکم طبقو تر منځ وي، خو بیه یې تل مزدور ولس پرې کوي. همدوی دي چې له خپلو کورونو شړل کېږي، خپل ماشومان ښخوي او د لوږې او بېروزګارۍ په جهنم کې سوزي. په پاکستان او افغانستان کې مزدور ولس له جګړې کرکه لري، خو د منځني طبقې هغه قشرونه چې د دولتي تبلیغاتو او قومپرستۍ تر اغېز لاندې دي، د جګړې د جنون ملاتړ کوي. مزدور ولس چې هره ورځ د ډوډۍ، جامو او سرپناه لپاره مبارزه کوي، د دغو حاکمانو سیاسي او مذهبي جګړو سره هېڅ تړاو نه لري.

نو دا څرګنده ده چې که جګړه (په هر ډول) بلیږي، نو دا به د مزدور ولس نه، بلکې د حاکم طبقې جګړه وي، خو تاوان به یې بیا هم ولس کوي. د مارکسي دریځ له مخې یوازینی بدیل دا دی چې د ډیورنډ دواړو غاړو مزدوران د خپلو ګډو طبقاتي ګټو پر بنسټ یو موټی شي او دا امپریالیستي او پانګوالي جګړه رد کړي، د رښتیني ولسي آزادۍ لپاره یو ګډ انقلابي مبارزه پیل کړي.

د واکمن طبقې تضادونه، د جګړې ارتجاعي څرنګوالی او یوازینی انقلابي لاره

د پاکستان او طالبانو تر منځ روانې سرحدي شخړې یوازې د دوو دولتونو تر منځ اختلاف نه دی، بل د سرمایهدار نظام او امپریالېستي توازن څرګندونه ده. جګړه او ملي بیانونه خلک وویشي؛ د دې وېش تر شا د واکمن طبقې ګټې پټې وي. قومپالنې، مذهبي ارتجاع او د بهرنیو امپریالېستي لوبو له امله د مزدورانو، بزګرو، ښځو او ځوانانو حقیقي غوښتنې شا ته پرېښودل کېږي. له همدې امله د دې شخړې حل نه په پوځي وسائلو کې دی او نه په یوازې ملي مفاهمت کې، بلکې حل د طبقاتي یووالي په رامنځته کولو کې دی، یوه داسې یووالي چې د سرمایهداره طبقې شخصي ګټې او د امپریالېستي فشار مات کړي او د خلکو ګټې تر ټولو مخکې ږدي.

موږ وایو چې د دواړو هېوادونو تر منځ جګړه به یو ژور ارتجاعي او تباه کوونکی نقش ولوبوي او دواړو غاړو به ولسونه درنې مرګــژوبلې وګالي. سربېره پر دې موږ دا هم واضح کوو چې د افغانستان د طالبانو حکومت هم یو ډېر ارتجاعي، ظالم او د خلکو ضد رژیم دی، او د پاکستان دولت د مذهبي ترهګرۍ د ختمولو په اړه نه جدي دی او نه یې سیاسي او اقتصادي وړتیا شته. نو ځکه د دې عفریت پر وړاندې دفاع یوازې د دولتي ځواکونو لاس کې پرېښودل ناشونې ده؛ اړینه ده چې د اغېزمنو سیمو خلک د خپلې ساتنې او بنسټیزو اړتیاوو لپاره د ټاکل شوو دفاعي کمېټو په شکل تنظیم شي؛ دا لنډمهاله، محلي او د تحفظ لپاره اړین ګامونه دي، تر هغه وخته پورې چې بنسټیز سیاسي بدلون رامنځته نه شي.

په یوه سرمایهداره یا مذهبي دولت کې د بند پاتې کېدو په صورت کې هېڅ حقیقي ازادي شونې نه ده. د نجات یوازینی لاره دا ده چې د انقلابي مزدور دولتونو په لور یو فیډرېشن جوړ شي، یوه اتحاد چې له کابل تر کراچۍ، له کوټې تر تاشکند پورې د مزدورانو یووالي رامنځته کړي. یوازې همدا لاره کولی شي دغه وینې تویېدونکي تضادونه له منځه یوسي.

په وروستي تحلیل کې موږ وایو چې د ۱۹۴۷ کال را روان د پاکستان او افغانستان د واکمنو اشرافیې شخړې حقیقي حل یوازې په هغو هېوادونو کې د سوشلستیک انقلاب له لارې شونی دی: د سرمایهداره دولت او امپریالېستي کړښې، لکه د ډیورنډ کرښې، ختمول او د ټولې سیمې یوه رضاکاره سوشلسټ فیډرېشن جوړېدل. همدا یوه لار ده چې مذهبي ارتجاع، قومي نفرت او بهرنی امپریالېستي مداخلې شاته کړي او رښتینې ازادي، روزګار، د ځمکې او منابعو ملي ملکیت او ټولنیز عدالت پیاوړی کړي.

نو ځکه زموږ غږ دا دی: مزدوران، بزګران، زده کوونکي، ښځې او ځوانان دې خپل مشترک طبقاتي ګټو پر بنسټ متحد شي؛ د محلي دفاعي، ټولنیزو او سیاسي کمېټو له لارې دې خپل ځانونه خوندي کړي او خپل استازی پیداکړي؛ او بالاخره د یوه انقلابي مبارزې له لارې دې په دې سیمه کې د امپریالېستي او سرمایه‌داره زنځیرونو د ماتولو لپاره یو نوی باب پرانیزي.

۱۵ اکتوبر، ۲۰۲۵